طلوع افغان

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کې دوه واره چاپیږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز شنبه ۳/رمضان المبارک/ ۱۴۴۴ هـ ق ۵/وری/ ۱۴۰۲ ل کال – ګڼه (۲)

Saturday-25-March-2023 Issue 2

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: کله چې د روژې میاشت راسي، د جنت دروازې پرانیستل سي، د جهنم دروازې بندي سي او شیطانان وتړل سي.

﴿رواه المسلم﴾

د دیني عالمانو نړۍوالي ټولني سکرتر اسلامي امارت مسؤلینو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ

د عامي روغتیا وزارت سرپرست ډاکتر قلندر عباد د دیني عالمانو د نړۍوالي ټولني له سکرتر جنرال دوکتور علي محي الدین القره داغي سره لیدنه وکړه.

یاده لیدنه چې د ۱۴۰۲ ل کال د وري میاشتي پر اوله نېټه د قطر په پلازمېنه دوحه کي تر سره سوله، دواړو لورو پر یو لړ مهمو موضوعاتو او دوه اړخیزو همکاریو خبري وکړې.

د دیني عالمانو نړۍوالي ټولني سکرتر د افغانستان اسلامي امارت څخه خپل رضایت او ملاتړ څرګند او په راتلونکي کي یې د هر ډول همکارۍ او همږغۍ وړاندي کولو ته چمتووالی وښووی.

د یادوني وړ ده، چې د اسلامي امارت د عامي روغتیا وزارت تر دې وړاندي د قطر په پلازمېنه کي په یو لړ نورو مهمو غونډو کي هم ګډون کړی وو.

الاتحاد العالمي لعلماء المسلمين
INTERNATIONAL UNION OF MUSLIM SCHOLARS

د اسلامي امارت د ویاند په مشرۍ د اسلامپاله مبارزینو غونډه جوړه سوه

د کندهار په اطلاعات او کلتور ریاست کي د سه شنبې په ورځ کي د افغانستان اسلامي امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد په مشرۍ د اسلامپاله مبارزینو ترمنځ غونډه وسوله.

په غونډه کي د اسلامي امارت ویاند سیاسي او علمي شخصیت ذبیح الله مجاهد، د اطلاعات او کلتور رئیس مولوي نور احمد سعید، مرستیال یې ملا شمس الله صمیم او په لسونو اسلامپالو مبارزینو ګډون کړی وو.

په پیل کي د کندهار د اطلاعات او کلتور رئیس مولوي نور احمد سعید د ناستي پر هدفونو خبري وکړې او زیاته یې کړه، دا ناسته د اسلامپاله مبارزینو ترمنځ د همږغۍ ډېرولو، له یو او بل سره د همکارۍ کولو او همدا راز د مبارزې په برخه کي د ستونزو لیري کولو په خاطر جوړه سوې ده.

ورپسې د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد له اسلامپاله مبارزینو سره د افغانستان اسلامي ۴مخ

د باغ پل (پل) ترمیم او ګټې اخیستني ته وسپارل سو

د کندهار د ټولګټو چارو ریاست مالي او اداري آمر مولوي بخت محمد باختر آژانس ته ویلي، یاد پل د ۱۵۴ متره په اوږدوالي او اته متره په عرض د دوو نیمو میاشتو په موده کي د درې سوه ۹۲ زره امریکایي ډالرو او دوه میلیونه اووه سوه زره افغانیو په لګښت ترمیم ۴مخ

کانټینري موټرونو ته اسناد ورکول کیږي

د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کي کانټینري موټرونو ته د اسنادو ورکولو پروسه د ۱۴۰۲ ل کال د وري میاشتي پر اوله نېټه د یو شمېر چارواکو په ګډون کي پیل سوه.

په دې پروسه کي هغو موټرونو ته اسناد ورکول کیږي، چې د شورم ټاپه سوی سند ولري. ۴مخ

په کندهار کي د بیارغوني پروژې عملي کیږي

د DRC مؤسسه په کندهار کي د بیارغوني پروژې عملي کوي.

د یادي مؤسسې مسئولینو د کندهار ښاروال حسن حاجي صاحب سره په لیدنه کي وویل، پلان لري، ترڅو د ښار په پنځلسو سیمو کي چې هلته مهاجرین او داخلي بې ځایه سوي اوسېږي، یو شمېر مهمي پروژې پلي کړي.

کندهار ښاروال وویل: خوشحاله دئ چې د ولسونو د سهولت او آرامتیا له پاره ورسره په ځینو برخو کي مؤسسې همکاري کوي.

د هغه په وینا، موږ د ټولو هغو مؤسسو څخه مننه کوو او د کار په برخه کي ورته اسانتیاوي برابروو، چې د بیارغوني پروژې پلي کوي.

د کندهار مجلې د ۱۴۰۱ ل کال د "لېندۍ- مرغومي" ګڼه چاپ سوه

Kandahar

کندهار

کندهار مجله د اطلاعات او کلتور ریاست دوې میاشتنۍ خپرونه ده، چې بېلابېل دیني، علمي، سیاسي، ادبي، ټولنیز او ورته نور مضامین لوستونکو ته په معیاري توګه وړاندي کوي.

په دې ګڼه کي د کندهار او سیمي د علماء کرامو، اکاډمیکو استادانو، لیکوالانو، شاعرانو او څېړونکو په تول پوره مضامین او لیکني خپرې سوي دي.

د کندهار مجلې په دې ګڼه کي د نورو ۴مخ

د یتیمانو د ښووني او روزني له پاره مرکز جوړیږي

په کندهار کي د یتیمانو د ښووني او روزني په هدف، د یو مرکز د جوړېدو کارونه پیل سوي دي.

یاد مرکز د عرفات ټولنیز بنسټ له لوري د اوومي ناحیې اړوند، په میربازار سیمه کي د یتیمو کوچنیانو د ښووني او روزني په هدف جوړیږي.

د شنبې په ورځ یې د چارو د پیل په مراسمو کي د یاد بنسټ مسئول مولوي سیف الاسلام خیبر، د خالد بن ولید قول اردو رئیس ارکان قاري محمد، د ننګرهار او کندهار ولایتونو د درملو اتحادیې رئیسانو، سوداګرو او ډېرو یتیمو کوچنیانو ګډون کړی وو.

د عرفان ټولنیز مرکز مسئول وویل، دا مرکز پر دوه جریبه مځکه ۴مخ

د کندهار پوهنتون د اوبو ستونزي حل سوې

په کندهار پوهنتون کي د اوبو کمښت د ستونزي حل په هدف دوې برمې ووهل سوې.

په کندهار پوهنتون کي د پرمختیایي کارونو په دوام، د یاد پوهنتون د اوبو د ستونزي حل په هدف، د ۱،۲ میلیونه افغانیو په لګښت دوې برمې ووهل سوې. ۴مخ

د فوټبال سیالۍ د ځوانانو لوبډلي په اتلولۍ پای ته ورسېدلې

په کندهار کي د یووالي او ورورولۍ په نامه د فوټبال سیالۍ د ځوانانو لوبډلي په اتلولۍ پای ته ورسېدلې.

د سپورټ او بدني روزني ریاست ویاند نذیر احمد نوري باختر آژانس ته ویلي، یادي سیالۍ لس ورځي مخکي په احمد شاهي لوبغالي کي پیل سوي وې، چې د ځوانانو لوبډلي په اتلولۍ پای ته ورسېدلې، چې په مراسمو کي یې د سپورټ او بدني روزني رئیس حافظ محمود آغا بشر او ډېرو نورو مسئولینو ګډون کړی وو.

یادي سیالۍ چې د کندهار د سپورټ او بدني روزني ریاست په همکارۍ د فوټبال فدراسیون ۴مخ

سوونو کسانو ته کاري زمینه برابره سوې

په کندهار کي د حرم سرای په نامه یوې فابریکې لسو کسانو ته په مستقیم او په سوونو کسانو ته په غیر مستقیم ډول کاري زمینه برابره کړې ده.

د یادي فابریکې مسئول حاجي داؤد شاه زمري باختر خبري آژانس ته وویل، فابریکه یې اتلس ۴مخ

د اقتصادي پرمختګ پنځه اساسي نقطې

سلېمان سعید "غلجی"

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د راپور پر اساس؛ د ۱۴۰۱ ل کال د حمل میاشتي له لومړۍ نېټې څخه بیا د یاد کال تر آخري نېټې د صادراتو کچه کابو ۱۹۰۰ میلیونو ډالرو ته رسېدلې، حال دا چې تېر کال د صادراتو کچه ۸۵۰ میلیونه ډالره وه او تر هغه وړاندي کال د صادراتو کچه ۷۷۶ میلیونه ډالره وه.

د صادراتو په برخه کي دومره زیاتوالی واقعاً د ستایلو وړ دئ، خصوصاً په داسي حالاتو کي چې ټولي نړۍ بندیزونه هم رابانديلګولي او د تجارت په برخه کي یې هم له ډېرو ستونزو سره مخ یو. که چیري د نړۍوالو بشردوستانو دغه بندیزونه نه وای، نو حتماً به مو تر دې څو چنده زیات پرمختګ کړی وای.

په هر صورت؛ زموږ هڅه باید دا وي، چې تر خپله وسه نور هم د خپل اقتصادي پرمختګ پر لور ګامونه واخلو، د صادراتو په کچه کي زیاتوالی راولو، د سیمي او ګاونډیو هېوادونو سره د اقتصادي ګټو او مشترکاتو پر اساس، قوي اړیکي ولرو او بلي خوا ته داسي طرحه هم جوړه کړو، چې بیا د نړۍوالو بندیزونه هم رابانديتأثیر و نه کړي او په کور کي د ننه خودکفا سو.

زموږ د اقتصادي پرمختګ او خودکفایي په برخه کي د صادراتو د زیاتوالي په شمول، لاندي پنځه ټکي ډېر مهم رول لري:

۱– د صادراتو کچې زیاتولو ته باید همداسي دوام ورکړو، له ګاونډیانو سره د اقتصادي ګټو او مشترکاتو پر اساس، اړیکي نوري هم قوي کړو او د خپلو صادراتو له پاره په بازار موندنه کي شپه او ورځ هڅې وکړو.

۲– د وارداتو برخه باید نوره هم کنټرول سي، د اولویاتو پر اساس دي هر څه ته اندازه وټاکل سي، اضافي، بې کیفیته او غیر ضروري توکي دي بند، محدود او یا هم مالیه پر زیاته سي، ترڅو زموږ د هیواد څخه پر غیر ضروري توکو پیسې و نه وزي.

۳– چې په هر صورت وي، باید د سیمي او ګاونډي هیوادونه په افغانستان کي پانګوني ته چمتو کړو، ابتدائي مرحله ده، باید فوق العاده امتیازات او اسانتیاوي ورته رامنځته کړو، چې یاد کار موږ ته دوې فایدې لري، یوه دا چې په اقتصادي ډګر کي به پرمختګ وکړو او بله دا چې یاد هیوادونه به زموږ په هیواد کي ښکېل سي، له موږ سره به په ښو او بدو کي شریک سي، له شره به یې په امن سو او د خپلو ګټو پر اساس به، حتماً زموږ خوا نیسي، نو د نړۍوالو له ګواښونو، بندیزونو او منزوي کېدو څخه به تر ډېره حده په امن کي یو.

۴– د زراعت برخي ته توجه: تر هر څه لومړی باید موږ خپله غله ولرو، دومره چې د پردیو له احتیاجه مو بالکل خلاص کړي، بلکي هڅه مو باید دا وي، چې د غلو دانو په برخه کي نوري نړۍ ته هم صادرات ولرو، ځکه افغانستان یو زراعتي هیواد دئ، که رښتیا خواري وکړو، موږ د زراعت له لاري دومره عواید تر لاسه کولای سو، لکه عربي هیوادونه چې یې د نفتو له لاري تر لاسه کوي.

کله چې زموږ غله خپله وي، نو له پردیو فرمایشونو او هغوی ته له سوال–زاري څخه به خلاص یو او حقیقي خپلواکي همداده، چې په هره برخه کي د نورو له محتاجۍ، تجاوز او ضرر څخه په امن یو.

۵– د زراعت تر څنګ باید د برېښنا په برخه کي هم ځان د خودکفایي تر حده ورسوو، ځکه چې له برېښنا پرته په صنعتي ډګر کي هیڅ پرمختګ نه سو کولای. همدا اوس د برېښنا د کمښت له امله زموږ په سوونو کارخوني په ټپه ولاړې دي.

که پورتنیو پنځو نقطو ته نوره هم توجه زیاته سي، ان شاء الله په ډېره لنډه موده کي به په اقتصادي ډګر کي د پام وړ پرمختګ وکړو، اقتصادي ستونزي به مو تر ډېره حده حل سي او ډېرو هیوادوالو ته به مو هم د کار–روزګار زمینه برابره سي.



د طلوع افغان خبري

اسلامي امارت د متوازن سیاست پر بنسټ له نړۍ سره روابط غواړي

د افغانستان اسلامي امارت پالیسي دا ده، چې د سیمې او نړۍ له ټولو هیوادونو سره سالمې او مثبتې اړیکې جوړې کړي او د متوازن سیاست تګلاره یې غوره کړې ده.

د افغانستان په څېر، د یو جنګ ځپلي او د اقتصاد له اړخه د یو کمزوري هیواد چې اوسمهال له ټولې نړۍ سره د مثبتو اړیکو د رغولو په هڅه کې دئ، په هیڅ ډول په نړۍوالو معضلاتو او شخړو کې ځان ښکېلول نه غواړي، د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د مثبت تعامل پر بنسټ، خپلې ګټې تأمینوي.

افغانستان یو ډېر ځانګړی او باارزښته جغرافیوي موقعیت لري، دا داسې موقعیت دئ، چې د جنوبي آسیا هیوادونه له مرکزي آسیا سره نښلوي، دا ځانګړی ارزښت به هغه وخت لا ګټور وي، چې په افغانستان کې نړۍوالې مداخلې نه وي او له افغانستان سره نړۍوالو او د سیمې هیوادونو مثبتې اړیکې رغولې وي.

د افغانستان اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ له پیله تر دې دمه دغه موضوع ته جدي پاملرنه کړې ده، د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره یې د توازن سیاست غوره کړی دئ او د ټولې نړۍ له هیوادونو سره یې د مثبتو اړیکو پیغام ورکړی دئ.

تېر لمریز کال کې اسلامي امارت په ډېرو برخو کې خورا ښې لاسته راوړنې درلودلې، بهرنیو هیوادونو ته د اسلامي امارت د لوړ پوړو مسئولینو سفرونه، له ګوانتنامو او امریکایي زندانونو څخه د دوو مهمو بندیانو آزادېدل او اسلامي امارت ته په یو شمېر هیوادونو کې د افغانستان د سفارتونو سپارل، د تېر کال له مهمو سیاسي پېښو څخه ګڼل کېږي.

د سیمې هیوادونو په دې وروستیو کې خصوصًا له ایران سره اړیکې خورا قوي سوي دي، له یاد هیواد سره زموږ په سوداګرۍ کې څو چنده زیاتوالی راغلی دئ، چې دا اصلاً یو ډېر ښه پرمختګ دئ.

هند هغه هیواد ؤ، چې د اسلامي امارت د واکمن کېدو په لومړیو میاشتو کې یې له اسلامي امارت سره اړیکې پرې کړې وې، خو په تېر یوه کال کې له اسلامي امارت سره د هند په سیاست کې ستر تغیر راغلی او د اسلامي امارت په اړه یې نظر خورا مثبت سوی دئ.

له دې څخه داسې ښکاري چې ورځ تر بلې به د نورې نړۍ هیوادونه هم د خپلو سیاستونو په اړه بیا کتنه کوي او د افغانستان له اسلامي امارت سره به خپلې اړیکې ساتي، ځکه اوس نړۍوال د مثبت تعامل څخه پرته بل وړ انتخاب نه لري.

اداره

د اسلام څلور برخې

مولوي نورالحق "مظهري"

د اسلام څلور برخې: اسلام هغه دین دئ چې په تمامه معنی جامع او شامل دئ

د اسلام څلور برخې: اسلام په تمامه معنی جامع او شامل دین دئ، چې د ساتلو او خپرولو له پاره یې الله (ج) ډېرې لارې مشروع کړې او ډېر کسان یې د دین د خدمت له پاره غوره کړي دي. د کړنلارې او عملي اجرا له مخې، کوم شیان چې دین په ساتل سوی او ټولې نړۍ ته غځېدلی، څلور دي، چې په لاندې ډول یې تشریح کوو:

۱–قتال في سبیل الله، چې زموږ خلک یې جهاد بولي.

۲–دعوت، چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په ګڼو طریقو سره کېږي.

۳–تعلیم او تعلم، چې د ډېرو نصابونو له لارې او زیاتو اشخاصو په ذریعه سر ته رسېږي.

۴–تزکیه، چې د مشهورو عبادتونو تر څنګ، د سلف صالحینو له خوا ورته ګڼ شمېر طریقې او لارې په نښه سوې دي، چې د تصوف په نامه یې شهرت موندلی دئ.

دا څلور سره برخې د هر مسلمان دندې دي، البته! د وخت او شرایطو په لحاظ ځینې وختونه بعضې یې تر بعضو نورو اولویت او لومړیتوب پیدا کوي، چې هماغه وخت باید په نظر کې ونیول سي.

په اسلام کې د دې څلورو برخو په اړه داسې تقسیم نسته چې یو مسلمان دې یوه برخه کوي، هغه بله دې بیا نه کوي، البته! د مهارت او ظرفیت پر اساس د اولویت په نظر کې نیولو سره هر مسلمان کولای سي، چې په یوه برخه کې ډېر خدمت وکړي، خو په نورو برخو کې به هم د خپل توان په اندازه کار کوي، داسې به نه کوي چې په یوه برخه کې کار پیل کړي، د نورو برخو څخه یا منکر سي او یا هم د نورو برخو پر کوونکو او لارویانو بد وایي، چې دا بیا نیمګړې مسلماني ده.

د دین دښمنان تل د دې هڅه کوي چې د مسلمانانو ترمنځ داسې اختلافونه پیدا کړي، چې د پورته څلورو برخو څخه د هرې برخې لارویان دې ځانونه مستقل او بېل مسلمانان وبولي، د نورو برخو څخه دې انکار وکړي او پر لارویانو دې یې بد ووایي.

مثلاً: د مجاهدینو، علماء کرامو، داعیانو او صوفیانو ترمنځ دې داسې اختلافونه پیدا کړي، چې د هرې ډلې خدمت دې تنها د ده تر مسلک پورې منحصر سي، پر یو او بل دې بد ووایي، ځان دې د یو او بل مقابل وبولي او هره برخه دې ځان ته بېل او متمایز کسان ولري، چې له بده مرغه ځینې ساده او بې فکره مسلمانان د داسې دسیسو ښکار سوي هم دي.

په داسې حال کې دارنګه فکر کول، ډېر غلط او بې شرعي لاسونده دئ، ځکه همزمان یو نفر د څلورو سره لاروی کېدلای سي، چې هم دې مجاهد، هم دې عالم وسي، هم دې د دین داعي او هم دې صوفي واوسي.

په دې هیله چې زموږ مسلمانان ورونه خپل فکرونه پراخ کړي، د دین د هرې برخې خدمت کوونکی د نورو برخو له خدمت کوونکو سره مرسته وکړي، د هغوی کار ته هم د دین د خدمت په ستر ګه وګوري او په همږغۍ ټول کارونه پر مخ یوسي.

حیا او ادبیات

پوهنمل رحمت الله "حکیمي"

حیا په ټوله کې د ژوند، په ځانګړي ډول د ادبیاتو ښکلا ده. په کار داده چې په ویلو او لیکلو کې له ډېرې حیا څخه کار واخیستل سي، څومره چې الفاظ او کلمې مسطوري وي، دومره جذابیت او ښکلاییز کیف پیداکوي، بربنډ او بازاري الفاظ د ادبیاتو په کور کې ځای نه لري، ادبیت او هنریت ته یې تاوان رسوي.

حیا عربي صفت دئ، د لغوي اړخه تغیر ته وایي، چې د پردې، عزت، نزاکت، پټولو او نفس مهارولو په معنا ده. اصطلاحاً د ملامتیا له بېرې د یو شي پر پرېښودلو ته وایي.

د ژوند اغېزناکه رنګیني په ښکلا کې نغښتې ده. انساني مزاج عقلاً او نقلاً له بربنډوالي څخه بد وړي.

د حدیث شریف متن دئ:

ژباړه: د حضرت ابوسعید الخدری (رض) څخه روایت دئ، چې رسول الله (ص) به په پرده کې له ناستې ښځې څخه ډېر حیادار وو، کله به چې رسول الله (ص) ناخوښ شی ولیدی، نو د هغه اثر به د ده مبارک په مخ کې معلومېدی. "رواه البخاري"

له ادبي اړخه کوم الفاظ، چې په نزاکت امېز ډول په پردو کې وویل سي، هومغره خوند لري. کوم څه چې واضح نه وي، د موندونکي ذهني تجسس یې په نزاکت امېزو او مسطورو لارو پیداکوي، چې دا بیا بېل کیف لري، لکه: د خپلې ورکې پیداکېدل.

په ادبیاتو کې د ابهام، کنایې، سمبول او ابهام ښکلا زېږوونکو نورمونو علت همدا دی، چې هر څه په کښې له نزاکت امېزو، عاطفي او تلوسه زېږوونکو پردو وروسته پېژندل کېږي. د ادبیاتو حقیقي ماهیت د ژوند اغېزناکه او مهذبه ژباړه ده.

د اغېز اصلي زړی په حیا کې پټ دئ، چې ادبیاتو ته د ښکلاییز کیف روح ورپوه کوي.

اروابناد حمزه (رح) وایي:

راغلې ناڅاپه وارخطا دې کړمه
ځکه مېلمه غوندې خبرې کوم

پورته بیت ته طبیعي ښکلا همدې حیا ورکړې او د مصنوعي زېوراتو له بار څخه یې ساتلی دئ.

که فکر وکړو مېلمه ډېر آرام، درونداو حیاناک ږغېږي. دلته خپل محبوب ته ویل سوي چې ستا ناڅاپي راتګ پر ما د مېلمه غوندې حالت راوستی، بل ځای وایي:

غل د محبت غلطېدای نه سي
څوک چې په محفل کې چاته نه ګوري

پورته ذکر سوې عادي خبره ده، دا چې ولې په لوستونکي ښه لګېږي؟ علت یې دادی چې (چاته نه کتلو) حالت یې په حیا او پښتنه مینه سینګار کړی دئ.

هغه د مشهور ژبپوه جامسکي خبره د سړي ستر ګو ته درېږي، چې وایي: "د ژبې تر شا پر موجود فرهنګ باید ټینګار وسي."

دلته د حمزه کلام ته پښتني فرهنګ، ثقافت، دود او حیا ځانګړې ښکلا ورکړې ده، په پښتني چاپېریال کې د خپل محبوب سره غوره تعامل همدادی، چې په ډک محفل کې کښته ګوري، نه پورته.

پورته بیت موږ ته ځکه خوږ ښکاري چې د (نه کتلو) حالت تر شا د پښتني فرهنګ، ثقافت او دود زړه دردوونکي رجحانات پراته دي.

ادب یوازې د خپلو نفسي خواهشاتو د مشبوع کولو، د خپل نفس خوښ ساتلو او نشې ګولۍ نه ده، چې ځان په نشه کړو، بلکې په بشري ژوند کې درونداو لوړ رسالت پر غاړه لري، په لوی لاس باید د ادیبانو او لیکوالانو څخه په نشه روږد کسان جوړ نه کړو، چې یوازې په نشه یې توکو ځان خمار کړي، د ځان او جهان څخه خبر نه وي. په کار داده چې لیکوال او شاعر د ټولني نبض ته په پام داسې مؤثري او مثمرې لیکنې وکړي، چې انسان او ټولنه دواړه په ښایسته وي.

د هرې ژبې ادبیات د خپلو ټولنیزو ارزښتونو له زیګنالونو څخه سېراب (غني – پوره) دي.

افغانستان یوسنتي او په الهي انوارو هغه رنګین ټاټوبی دئ، چې هر څه په ځانګړي ډول ادبیات یې د اسلامي، ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونه څخه بېل نه مطالعه کېږي.

استاد ناګار ویلي:

وسوسه یې د حیا آخر تقوا سوه
ما چې خوله ترېنه غوښته دې استغفار کړ

په دې بیت کې وینو چې زموږ د ټولني عشق د اسلام په مبارکو انوارو تر دې حده رنګین دئ، چې په وسیله یې محبوبه هم د حیا په فکرونو کې د مینې له ورخه د تقوا مزه څکي.

که دقیق سو، هنر او ښکلاییز کیف د سمبول، کنایې، استعارې او مجاز په ظرفونو کې وړاندې کېږي، له دې څخه هم ښکاري چې ادبیات له بربنډوالي څخه بد وړي.

د پښتو ژبې نازکخیال شاعر کاظم شیدا ویلي:

په غونچه یې د بلبل په شان ناره کړه
شیدا ولیده ادا ستا پـه نقاب کې

په پورته ذکر سوي کلام کې وینو، چې د محبوبې حیاناکې او مسطورې ادا پر شیدا د بلبل غوندې ناره کړې ده.

له دې څخه ښکاري چې حیا د ادبیاتو ښکلاییز ګراف لا پسې لوړ کړی دئ. فکر کوم د الفت صاحب وینا ده چې وایي: "خبره مؤنثه ده، څومره چې په حیا کې وسي، دومره یې اغېز زیات وي."

د غزل د پېژندنې په اړه حقیقي خبره داده، چې د لطافت، حیا، باریکۍ او تغزل له امله د ښځو په وړاندې خبرې وسي، یا دا چې غزاله له خوږونکي زمري څخه په حیاناکو او نزاکت امېزه کتلو ځان ژغوري.

د کتلو دغه کیف غزل دئ، چې ځیني یې په غلط ډول له ښځو سره د خبرې کولو په معنی تعبیروي. اصلاً د هغې حیاناکې او نزاکتي ادا کیف دئ، چې د ښځو په وړاندې تر سره کېږي. دلته هم وینو چې د تغزل اصلي زړی په حیا او نزاکت کې پټ دئ.

بازاري او فېشني شاعري د ادبیاتو پر مهذبه لمن تور داغ جوړ کړی، که نه د افغاني ټولني ادبیاتو ذاتاً په حیاناکه او نزاکت رنګه لار قدمونه ایښي، کاظم خان شیدا ویلي:

داو بو په شان روان په هسې لار سه
چې دا سپینه لمن وساتې له ګرده

سپینه لمن د حیا او عفت لمن وي، چې د ګردونو او داغ څخه پاکه وي.

شیدا هم خپل مخاطب هسې لار ته رابولي، چې داو بو په شان پاک او سپېڅلی روان وي.

عاموالی ذاتاً عادي او خاصوالی غیر عادي کړنه ده، څنګه چې ادبیات د غیر عادي بیان انځوریزه ژبه ده، نو حیا هم د خاص والي او غیر عادي والي په رامنځته کولو کې ښکاره نقش لري، حمزه صاحب ویلي:

دلمر مخو دیدن کله کله ښه وي
هغه حسن حسن مه ګڼه چې عام سو

حیاناک حسن نه عام کېږي، همدې ته په پام سره په لوړ بیت کې وینو چې حمزه د ښکلو (لمر مخو) دیدن کله کله غوښتی او د عاموالي په واسطه یې حسن له صفر سره ضرب کړی دئ. همدا حیا ده، چې حسن په کښې نغښتی او همدا حسن دئ، چې حیا په کښې نغښتې ده.

په ادبیاتو کې همدا اغېزناک کیف په حیا کې نغښتی، چې زموږ د عاشق له اوښکو څخه یې تسبېح جوړې کړې او ستر ګو ته یې د ثنا ویلو چم ورزده کړی لکه په اړه چې یې حمزه بابا ویلي:

عشقه! د دې اوښکو له تسبو نه دي
څنګه دې ورزده کړه ثنا ستر ګو تـه

که په حقیقي ډول ووایو، ادب او حیا یو له بل سره خور او ورور دي، چې په ګډه سره د هنریت او ښکلا افاقي پیغامونه له ځان سره وړي.

د رسول الله (ص) د مبارکې وینا پښتو متن دئ، چې وایي:

"بد ویل او بې ادبي چې په هر شي کې وي، هغه معیوب وي، حیا او ادب چې په هر شي کې وی، هغه ته ښکلا ورکوي." (رواه الترمذي)

که ادب د ژوند د رغښت او ښکلا له پاره غواړو، نو ژوند په اسلام او اسلام په حیا ښایسته دئ.

د حضرت انس (رض) څخه روایت دئ، چې رسول الله وفرمایل:

ژباړه: بې شکه د هر دین له پاره یوه ځانګړنه ده او د اسلام ځانګړنه حیا ده.

په ټوله کې مو دا لیکنه دې پایلې ته رسوي چې په حقیقي ډول د ادبیاتو جمال په حیا کې نغښتی دئ، یوازې بربنډ، بازاري او نفس پاروونکي شعرونه او لیکنې د دې لوړې مانۍ رنګ نه سي پیکه کولای، خپلې خبرې د پښتو ژبې د غزلبول شاعر په لاندې کلام راټولوم.

پوه سومـه پسرلیه د عزت په راز
سر کې دلښکر ځي عَلم پټه خوله

د اسلام لنډ تاریخ

علي الله "متوکل"

دوځلوېښتمه او وروستۍ برخه

سلطان بایزید: دی زړور، عالم او د زیاتي حوصلې خاوند ؤ. فتوحاتو او د لښکر قوي کولو ته یې ځانګړې پاملرنه وکړله. د اناتولیا نصراني امارت یې چپه او د عثماني امپراطورۍ برخه یې وګرځوله. په دې وخت کې ګوډ تیمور د خراسان په پایتخت سمرقند کې واک ته ورسېدی. هغه به ویل: "تږوله نړۍ نیسم. آسمانونه یو پاچا لري، نو پر مځکه هم باید یو پاچا وي." فارس، ارمنیا، اردن، دنپر او د روسیې ځیني برخې یې ونیولې، له دهلي تر دمشق پورې یې خپل بیرغ ورپاوه.

ګوډ تیمور او سلطان بایزید دواړو د خپلو امپراطوریو پراختیا غوښتله. په منځ کې ځیني نوري خبرې هم راغلې، چې د دوی د جنګ لامل سوې. ګوډ تیمور خپلې لښکرې رامخته کړې، سیمې یې ونیولې. د بایزید او تیمور لښکري سره مخ سوې. د بایزید لښکرو ځکه ماته وخوړله، چې د لښکر ځیني خلک یې وتښتېدل او ځیني یې ګرمۍ او تندې ور مړه کړل، بایزید او پاته لښکر ښه په مېړانه وجنګېدی، خو ماته یې وخوړله. بایزید بندي کړل سو او په بند کې مړ سو. ګوډ تیمور د عثمانیانو تر واک لاندې زیاتې سیمې ورانې کړې.

لومړی سلطان محمود: دی په ۷۸۱ هجري کې واک ته ورسېدی، تکړه او شجاع سړی وو. عثماني امپراطوري یې د تاتاریانو د حملو او کورنیو جګړو څخه وژغورله، د ژوند کولو ساه یې په کښې پیدا کړله. مسجدونه، تعلیمي ځایونه او روغتونونه یې فعال کړل.

دوهم سلطان مراد: عمر یې تر شلو کلونو کم وو، د ډېري تقوا، عدل او شفقت څښتن ؤ. فتوحاتو ته یې ادامه ورکړله. اروپایي او بلکاني لښکرو ته یې ماتې ورکړې. سلطان مراد خپله د ژمري په څېر جنګېدی. د هنګري نصراني پاچا لادیسلاس سر یې پرې کړ. تر دې بریاوو وروسته سلطان پاچهي خپل زوی سلطان محمد ته پرېښووله او ولاړی، په یوازیوالي کې یې د الله (ج) عبادت شروع کړ. داخلي فساد شروع سو، ځیني خلک د حکومت په ورانډې را پورته سول. علماء کرام وبېرېدل داسي نه چې فتنه لویه سي، نو بیرته یې د سلطان مراد څخه غوښتنه وکړله، چې راسي او خپله پاچهي مخته یوسي. پاچا بیرته را وګرځېدی، داخلي جنجالونه یې آرام کړل او د ژوند تر پایه یې فتوحاتو، بریاوو او د تقوا ژوند ته ادامه ورکړله.

دوهم سلطان محمد فاتح: قوي او عادل پاچا وو. د کښېناستو سره سم یې بې ځایه لګښتونه بند کړل، اداري او مالي چارو ته یې پاملرنه وکړله. پر کوچنۍ آسیا او شرقي اروپا یې حکومت کاوه. په دې وخت کې پر قسطنطنیه د بېزنطیني امپراتور واک وو. سلطان محمد فاتح غوښتل و یې نیسي. تر حملې مخکي یې له ځینو هیوادونو سره معاهدې وکړې، بحري قوت یې جوړ کړ او د هنګري څخه یې د توپونو جوړولو انجنیر را وغوښتی. پوره آماده ګي یې ونیوله او بیا یې پر قسطنطنیه حمله وکړله. ښار یې کلا بند کړ، خو داوبو یوه لار لا د بېزنطیني لښکرو په لاس کي وه. د همدې لاري څخه نصراني لښکرو ته د اروپا څخه کمک رااستول کېدی. د جینیوا څخه هم بحري لښکري را ورسېدلې. کله چي نصرانیانو ته دا معلومه سوله، چي نور د ښار دفاع نه سو کولای، نو کوښښ یې وکړ چي سلطان فاتح په مال او شتمنۍ راضي کړي، خو هغه و نه منل. سلطان فاتح لیک ور ولېږی، چي ښار مسلمانانو ته بې له جنګ څخه تسلیم کړئ، زه ستاسي او ستاسي د کلیساګانو د خوندیتوب وعده درکوم، خو د قسطنطنیې امپراطور جنګ ته ادامه ورکړله. سلطان فاتح خپلو لښکرو ته وویل، چي د قسطنطنیې په اړه به د رسول الله (ج) معجزه زموږ په لاسونو په حقیقت بدله سي. د مسنداحمد په روایت یو حدیث دئ: "تاسو به خامخا قسطنطنیه فتحه کوئ، د چا په لاس چي فتحه سي، هغه به غوره مشر او لښکر به یې غوره لښکر وي." قسطنطنیه د سلطان محمد فاتح په لاس فتحه سوله او امپراطور یې ووژل سو. د ښار تر نیولو وروسته سلطان آیا صوفیا کلیسا ته ولاړی، هلته ناستو ټولو نصرانیانو او راهبانو ته یې ویل، اندېښنه مه کوئ! تاسو مو کورونو ته ولاړ سئ. هغوی اکثرو ایمان راوړی. سلطان اعلان وکړ، چي تر نن وروسته دي دا کلیسا په مسجد بدله سي. دا د اسلامي شریعت حکم دئ، چي ښار په جنګ نیول سوی وي، نو له کلیسا څخه مسجد جوړولای سي. هغه عیسویان چي لا نه ول مسلمانان سوي، هغوی ته یې دیني آزادي ورکړله، هغوی خپل عیسویت دین تعقیبوی.

د عثماني خلافت له خوا د نورو سیمو نیول: صفویانو پر فارس او عراق پاچهي کوله. عثماني خلیفه سلطان سلیم له دوی څخه کردستان، یاربکر او نوري سیمي په جنګ و نیولې. سلطان سلیم چي کله له هغې خوا را فارغ سو، نو د شام او مصر خواته یې مخه کړله، په دې وخت کي په مصر، شام او حجاز کي مریانو حکومت کاوه. شام، ورپسې مصر او بیا یې حجاز ونیوی او د مریانو حکومت یې پای ته ورساوه. عثمانیانو خپلو فتوحاتو ته ادامه ورکړله، الجزایر، تونس، المغرب او لیبیا یې و نیول.

د عثمانیانو حکومتي جوړښت: لوی پاچا به د عثماني کورنۍ څخه، واک د ده په لاس کي ؤ او تر ده وروسته کس صدراعظم وو، د ده تر لاس لاندي به وزیران ول. دوی به ټولو له پاچا سره په کارونو کي مرسته کوله. پرېکړې ټول د قاضي القضاة له خوا په اسلامي شریعت کېدې. هر ولایت ځان ته والي درلودی، والي ته د پاچا لقب ور کول کېدی او د خلیفه له خوا ټاکل کېدی.

د عثماني دولت د زوال سببونه: عثمانیانو پنځه پېړۍ امپراطوري وکړله. د شلمې پېړۍ په پیل کي یې امپراطوري د مصطفی کمال اتاترک له خوا ړنګه سوله، د دوی د له منځه تللو زیات لاملونه شتون لري.

۱– د الله (ج) څخه لیریوالی: د عثماني خلافت بنسټ سلطان عثمان په ډېر اخلاص ایښی وو، دوی په خپلو ټولو چارو کي د الله (ج) خوښي لټوله، دین یې خپروی او اسلام یې روښانه کوی، عبادت یې کوی، علم یې حاصلوی، له نامسلمانانو او منافقینو سره یې جهاد کوی، خو تر سلطان سلېمان وروسته چي کوم پاچهان راغلل، ټول کمزوري او له الله ﷻ څخه لیري وو. خرافات عام سول، بدعتونه منځته راغلل او بې لاري صوفیانو موقع پیدا کړله، د صوفیانو دا ډلو له دین څخه لیري کارونه کول، سنتو ته یې شا کړې وه او خلک یې هم د حقیقي شریعت څخه را ګرځولي وو. پر باطلو صوفیانو سربېره ګمراه ډلو هم فعالیت شروع کړ؛ اثناعشریه، النصریة، اسماعلیه، بهائي او قادیانیت را پیدا کېدل، هغه څه وو، چي د عثماني خلافت پایې یې کمزوري کړې. دوی له صلیبیانو او دښمنانو سره د عثماني خلافت پر ضد کمک کاوه.

۲–ظلم او زیاتی: عثماني پاچهانو او د هغوی امرانو پر عامو خلکو ظلمونه شروع کړل، د هغوی د مال له لوټولو تر وژلو یې هر څه وکړل. د سلطان دریم مراد یو وزیر ابراهیم پاچا نومېدی، چي د دیار بکر سیمه یې په لاس کي وه. پر خلکو یې ظلم کوی، هغوی یې شکایت وکړ، خو د قاضي په وړاندي له ډېري هیڅوک شاهدۍ ته حاضر نه سو. کله چي دی بیرته را وګرځېدی، نو زیات خلک یې د شکایت په تور ووژل، خلکو پاڅون وکړ، هغوی یې په یوه کلا کي محاصره کړل او د توپونو په مرمیو یې ووژل.

۳– عیش او عشرت: په دربارونو کي د ټنګ–ټکور، نڅاګانو او عیش و عشرت جشنونه نیول کېدل. بې ځایه مصرفونه به شروع او همدا بې ځایه خرڅې یې د هلاکت سبب سوې.

۴– بې اتفاقي او اختلافات: د عثمانیانو په منځ کي خپل منځي اختلاف اوج ته رسېدلی وو. یو له بله یې کرکه پیدا کړې وه او په کارونو کي مرسته او تعاون له منځه تللی وو.

پای

د غرونو پر څوکو

په نېکیو کي یو له بل څخه وړاندي والی کول

ژباړه او زیاتونه: عبدالرحیم "راشد"

پنځه ویشتمه او وروستۍ برخه

که چیري منکرات زیات سي، موږ به د څه شي انتظار وکړو!؟ د هغه څه انتظار به کوو، چي زموږ پر سر د ډبرو باران وسي، یا د مځکو او آسمانونو د پالونکي غوسې ته انتظار.

الله (ج) د سورت مائدې په ۷۸ او ۷۹ نمبر آیتونو کي فرمایي:

ژباړه: له بني اسرائیلو څخه چي کومو خلکو د کفر لاره غوره کړه، پر هغوی د داؤد (ع) او د مریم د زوی عیسی (ع) په ژبه لعنت وویل سو، ځکه چي هغوی سرکښه سوي او له حده په تېري کولو یې لاس پوري کړی وو.

هغوی د بدو چارو له سرته رسولو څخه یو د بل منع کول پرې ایښي ول، ناوړه کړنلاره وه چي هغوی غوره کړه او په صحیحینو (بخاري او مسلم) کي یو روایت را نقل سوی دئ، چي د رسول الله (ص) له بیبیانو څخه یوې یې وویل: رسول الله (ص) ماته په داسي حال کي راغی، چي په ببره کي وو او و یې ویل: افسوس پر عربو او هغه شر چي نژدې سوی دئ، نن د یاجوج او ماجوج بند دومره خلاص سوی او خپلې مبارکي ګوتې یې حلقه کړې.

ما وویل: اې د خدای رسوله! په داسي حال کي چي زموږ په منځ کي صالحان او نېکان خلک شتون لري، بیا به هم هلاک سو!؟

هغه وفرمایل: هو! که چیري ناپاکي زیاته سوله، دا رښتینی حقیقت دئ، چي دین د کمزورو ایمان لرونکو خلکو په لاسونو واک ته نه رسېږي او د بزدلانو په هڅو نه راپورته کېږي، بلکي د هغو نارینه او ښځو په لاسونو راپورته کېږي، چي شجاعت او مېړانه ولري.

دا مېړني به د الله (ج) دین د نړۍ هر کونج او کنار ته رسوي، هغه کسان چي خپل نفسي خواهشات یې په خپل واک کي کړي، تل خلک د بدیو څخه ژغوري او داسي روزل سوي دي، چي حق لاري ته بلنه یې خپل د ژوند اړینه وظیفه ګڼلې ده.

سفیان ثوري (رح) فرمایي: په خدای قسم چي کله هم منکر وینم او له هغه منع نه سم کړای، نو دومره راباندي غم او خپګان زورور سي، چي له امله یې د ادرار وینه تویوم.

حضرت عمر فاروق (رض) وویل: که څوک امر بالمعروف او نهي المنکر پرېږدي، خدای به د هغه هیبت د خپلو بندګانو له زړونو څخه لیري کړي، تر هغه ځایه چي حتی خپلې اولادونو ته به امر او نهي وکړي، د هغوی له لوري به هغه تحقیر کړل سي، څومره چي یو بد عمل (منکر) څرګند وي، هغومره خطرناک هم وي، ځکه خلک د هغه په ترسره کولو کي هم له تلوار څخه کار اخلي. که چیري یو کس په ښکاره توګه بد عمل ویني او د هغه څخه خلک نه منع کوي، نو هرومرو به د خدای (ج) له حساب سره مخ سي او زیات وخت خلک له خدای (ج) سره په ښکاره شرک او لویو ګناهونو اخته وي، حتی دغه عملونه په ځینو مسلمانو هیوادونو کي زیات مسلمانان ویني، خو په پټو سترګو او وژل سوي زړه ځني تېر سي.

قدرمنو لوستونکو! د غرونو پر څوکو پنځه ویشتو لړیو کي مو تاسو ته هغه زریني مرغلري او ژوند بدلوونکي کیسې درته ذکر کړلې، که څوک یې په سالم عقل، رڼو سترګو او ویښ زړه مطالعه کړي او د رب (ج) څخه یې د عملي کولو توفیق وغواړي، دا هیله ستته تل به دا هڅه کوي چي د نورو مسلمانانو څخه د نېکیو په سرته رسولو کي سیالي وکړي او د دې لاري یو ګړندی شخص به ځني جوړ پرې.

پای

شعري او آدبي

د طلوع ځلانده ډيوه

غزل

احمد خان "مسلم"

ژوند تېرېږي لکه کال کي موسمونه
ټول وخت به نه وي خوشبو او سره ګلونه

✱✱✱

زندګي لکه لنډ باد د پسرلي ده
سر به نه سي په کښې ستا خواږه خوبونه

✱✱✱

موږ راغلي یو موږ بیرته ځو بې شکه!
مه تړئ په دې دنیا پوري موز زړونه

✱✱✱

قبر وایي چي ژوندی یې نو مغرور یې
بیا چي راسي فایده نه کړي ارمانونه

✱✱✱

د ځوانۍ عبادت سره زر ګڼل کېږي
هسي مه تېروئ ځان باندي وختونه

✱✱✱

"احمد" وایي له درسونو څه سوم پاته
غربت دومره راته ډېر کړله کارونه

غزل

حیات الله وطن دوست

یا د منصور غوندي به دار ته رسي
یا به د خپل عاشق دیدار ته رسي

✱✱✱

چا چي په تورو شپو کي یون کړی وي
هغه رڼا مومي سهار ته رسي

✱✱✱

لکه مجنون په لځو پښو چي درومي
ها د لیلا د غاړي هار ته رسي

✱✱✱

چا چي تکل د آزادۍ کړی وي
دا ټک سیند ښکلي سینګار ته رسي

✱✱✱

چي یې هدف وي خپلواکي د هیواد
هغه کاروان به سیده لار ته رسي

✱✱✱

چي انتظار لکه یعقوب وزغمي
د یوسف مخي غوندي یار ته رسي

✱✱✱

لکه سپوږمۍ چي رڼا یې ور کوي
هغه د ستورو سپین کتار ته رسي

✱✱✱

دا مات وزري "وطن دوست" ته ګوره!
دا به یو وخت د بدل وار ته رسي

غزل

نور احمد قرآن مل

کائنات دي په ښکلا کړي سترګکونه
جمادات دي د وفا کړي سترګکونه

✱✱✱

د رمز ژبې دي ګونګۍ غوندي ګویاني
هر ښکاره دي برملا کړي سترګکونه

✱✱✱

راز د حسن د وجود د ښکلا حسن
هر بد رنګه دي دا دعا کړي سترګکونه

✱✱✱

ترازو د سماواتو اعتراف کړي
چي ثابت دي لاینها کړي سرګکونه

✱✱✱

د یوه فتیل په رحم کي دي ښاد سم
"قرآن مل" کړي معلی ته سترګکونه

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت لـه ټـاکلي لیکنیـز معیـار سره سم، د لیکنـو پـه اصلاح کـې د لاسوهنې حق لـري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلي پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: بسم الله "غرنی"
کمپوز او ډیزاین: نصیراحمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ – اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | Issue: 2 | Established in 1300 Hijri

د (۱) مخ پاته: **د اسلامي امارت د ویاند په مشرۍ د اسلامپاله...**

امارت د پالیسۍ اړوند بحث وکړ او ټولې هغه مادې یې په ډاګه کړې، چې د اسلام امارت د پالیسۍ مهمه برخه جوړوي او تطبیق یې نه یوازې د مبارزینو، بلکې د ټولو له پاره ضروري دئ.

مجاهد هغه نقطې هم یادې کړې، چې د اسلامي امارت له پالیسۍ سره هیڅ تړاو نه لري، خو ځیني یې د پالیسۍ په نامه عملي کوي، چې دغه چاره په هیڅ صورت د منلو وړ نه ده.

ذبیح الله مجاهد اسلامپالو مبارزینو ته په خبرو کې ټینګار وکړ، چې د مبارزې پر مهال ډېر دقیق، معقول او منطقي دلایل وړاندې کړئ، هیڅکله چا ته سپک الفاظ مه کاروئ، د مخالفو کسانو جوابونه په نرمه لهجه ورکړئ، د افواهاتو او دروغو په مقابل کې کره او اصلي معلومات وړاندې کړئ.

مجاهد پر اخلاص او د مشرانو پر اطاعت کولو هم ډېر ټینګار وکړ او یادونه یې وکړه، په دومره دقت باید مخته ولاړ سئ، چې په مستقیم او غیر مسقیم ډول د چا سپکاوی او توهین و نه سي.

ټولو اسلامپاله مبارزینو هم د ښې مبارزې په هدف خپل نظرونه، مشورې، وړاندیزونه او په یو شمېر برخو کې غوښتني له مسئولینو سره شریکې کړې، چې باید د مبارزینو لاسنیوی وسي او هم په دې برخه کې لا ډېر کار ته وهڅول سي.

مسئولینو د اسلامپاله مبارزینو تر نظرونو، غوښتنو او وړاندیزونو اورېدلو وروسته بشپړ ډاډ وړاندې کړ، چې د امکان تر حده به همکاري ورسره کوي.

(۱) مخ پاته: **د باغ پل ترمیم او ګټې اخیستني ته...**

سو، چې په مراسمو کې یې د کندهار د والي مرستیال مولوي حیات الله مبارک، کندهار ښاروال حسن حاجي صاحب او ډېرو نورو مسئولینو ګډون کړی وو.

د والي مرستیال د ۷۷ ترکي ساختماني شرکت څخه مننه وکړه، چې په افغانستان کې د بیارغونې په برخه کې کار کوي او غوښتنه یې وکړه، چې په خپلو خدماتو کې نور هم ډېروالی راولي، ځکه اوس په افغانستان کې په بشپړه توګه د کار زمینه برابره سوې ده.

(۱) مخ پاته: **کانټینري موټرونو ته اسنادونه...**

د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ د ترافیکو مدیر مولوي احمد ضیا حقاني ویلي: "یاده پروسه به د جرمونو، جنایي پېښو او غلاوو د مخنیوي ترڅنګ، په ښاري نظم کې د پام وړ ښه والی راولي.

په یاده پروسه کې تر ۲۰۱۰ کښته ماډل موټرونو ته د سلنډر پر سر ۵۳۰۰افغانۍ او له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۲۲ ماډل پورې ۷۰۰۰ افغانۍ د بانکي تعرفې له لارې تحویلېږي.

(۱) مخ پاته: **د کندهار مجلې د ۱۴۰۱ل کال د "لېندۍ- مرغومې"...**

موضوعاتو ترڅنګ؛ "جنګ د هیچا په ګټه نه دئ، د محصلینو درسي پلان ته اړتیا، د شپږو پوهانو ژوند لیکونه، شعرونه او نور ګټور موضوعات خپاره سوي دي."

د کندهار مجلې مینه وال دي یې د ترلاسه کولو له پاره د کندهار اطلاعاتو او کلتور ریاست ته مراجعه وکړي او د خپلو لیکنو، شعرونو او مضامینو د خپرولو له پاره په اطلاعاتو او کلتور ریاست کې د مجلې له مدیریت سره په اړیکه کې سي.

(۱) مخ پاته: **د یتیمانو د ښووني او روزني له پاره...**

د ۲۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، لومړی ۳۰۰او تر هغه وروسته تر ۱۰۰۰ ډېر یتیم کوچنیان په کښې داخلوي، ترڅو یې ښوونه او روزونه په ښه ډول تر سره سي.

د هغه په قول، د دې مرکز د جوړېدو چارې د اسلامپالو هیوادوالو او سوداګرو په مټ تر سره کوي.

د خالد بن ولید قول اردو رئیس ارکان او د کندهار د درملو اتحادیې رئیس عبدالبصیر پیمان د دې مرکز پر جوړېدو خوښي وښووله او د یاد مرکز جوړېدل یې نېک او غوره ګام یاد کړ او زیاته یې کړه، اسلام د یتیمانو پر پالني او روزني ټینګار کړی، په ټولنه کې د هر مسلمان مسئولیت دئ، چې د یتیمو کوچنیانو پالنه او روزنه وکړي او له خپله اړخه یې هم د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ.

(۱) مخ پاته: **سوونو کسانو ته کاري زمینه...**

قلمه تولیدات لري، چې له جملې څخه یې څوارلس ډوله مربا ده، چې د مختلفو تازه او وچو مېوو څخه جوړېږي او څلور ډوله بېلابېل شربت دي.

د داؤد شاه په وینا، تولیدات یې د کندهار ولایت ټولو سیمو ته رسېږي، چې ور سره په مستقیم او غیر مستقیم ډول سوونو کسانو ته په کښې کاري زمینه برابره سوې ده.

(۱) مخ پاته: **د کندهار پوهنتون د اوبو ستونزه...**

د یاد پوهنتون مالي او ادارې مرستیال مولوي عبدالستار حقاني باختر آژانس ته ویلي، په تېرو کلونو کې د پوهنتون د زرغونتیا او د محصلینو له پاره د پاکو اوبو ستونزه نه وه حل سوې، نو ځکه پوهنتون ډېره شنه ساحه نه درلوده او محصلین د اوبو د نه شتون له امله له ډېرو ستونزو سره مخامخ ول.

حقاني زیاته کړه، له یادو برمو څخه به د پوهنځیو ترڅنګ، د پوهنتون د زرغونتیا له پاره هم استفاده وسي.

د یادولو وړ ده، چې په کندهار پوهنتون کې د اوبو د کمښت له امله محصلین له ډېرو ستونزو سره مخامخ ول او هم به هر کال سوونه نیالګي وچېدل، چې اوس مهال یاده ستونزه حل سوې ده.

(۱) مخ پاته: **د فوټبال سیالۍ د ځوانانو لوبډلي په اتلولۍ...**

له لورې پیل سوي وې، څلورو لوبډلو د هلمند بارک، د پکتیا تلاښ، د کندهار ځوانان او د میرویس نیکه پوهنتون لوبډلو برخه په کښې اخیستې وه.

وروسته د مسئولینو له لورې اول او دوهم مقام ګټونکو لوبډلو ته کپونه او مډالونه ورکړل سول.

د بل خبر د بدني ښکلا نمایشات د کندهار ښار په مدینه بدني ښکلا کلب کې د ۴۷ ورزشکارانو تر منځ تر سره سول.

په جوړو سوو مراسمو کې د کندهار د بدني روزني او سپورټ رئیس حافظ محمود آغا بشر، د کندهار د بدني ښکلا فدراسیون مسئول استاد محمدالله ګلالي، د بدني ښکلا ډېرو استادانو او مینه والو ګډون کړی وو.

د مدینه بدني ښکلا کلب مسئول حاجي بصیر احمد عابدي ویلي: "له یادو نمایشاتو څخه یې هدف د ورزشکارانو تشویق او په راتلونکي کې د بدني ښکلا کلنیو سیالیو ته د لوبغاړو چمتوالی دئ"

د نمایشاتو په پای کې د مسئولینو له لورې لوبغاړو ته کپونه، مډالونه او ستاینلیکونه هم ورکړل سول.